م. بشیر دودیال ۲۰۱۹/۰۵/۲۷

# آیا د منځنی آسیا، جنوبی آسیا او چین لپاره

## د اروپایی مرکانتلیزم (Mercantilism) تجربه ګټوره ده؟

د اقتصادي نظرياتو په تأريخ کې که څومره د فزيوکراتانو درناوی کيږي او له تيوری څخه يې ګټې اخيستل شوي دي، هومره دمرکانتلستانو نظرونو هم د سياستوالو او اقتصادپوهانو پام ځانته رااړولی دی. فزيوکراتانو زياتره په زمکه او نورو طبيعی شتمنيو ډېره ولګوله او زمکه او طبيعی منابع يې دثروت منبع بلله، بالمقابل؛ مرکانتليستانو تجارت او سوداګری ته ډېره پاملرنه وکړه. د فزيوکراتانو په نظريه خبرې نه کوو، خو مرکانتليزم به لږڅه تشريح کړو: د مرکانتليستانو هدف د دوی دهيوادونو داقتصاد ښه کيدل و، خو سياستوالو يی ډير افراط وکړ او په لويو استعماري هيوادو بدل شول. دوی خپل دولتونه د ثروت ټولولو ته دومره وهڅول چې پايله يی ښکيلاک او د نورو ملکونيول شول. ښه مثال يی د بريتانيا دی چې د تجارت له نامه لاندې يی ځان آن تر لوی هندوستان پورې راورساو. دختيځ هند کمپنی چې بالاخره دهند دمستعمره کيدو او بيا آن ترافغانستان پورې د انګريزانو د رارسيدو لامل شوه، هسې په نوم سوداګريزه کمپنی وه، خو اصلي هدف يې د هند دخامو موادو (ثروتونو) انتقال و. د سوداګرانو مکتب (نظريات) په اروپا کې د پنځلسمې او شپاړلسمې ميلادي پيړی د اقتصادي، سياسي او کلتوري بدلونو له امله رامنځته شول چې د اتلسمې پيړۍ تر نيمايي پورې يې دوام درلود. هغه پرمختګونه چې په اروپا کې په پنځلسمه پيړۍ کې راپيښ شول؛ د فکرونو او آيډيالونو د بدلون لامل شول او په پای کې مذهبي ريفورم او رنسانس رامنځته شو. په دې ترڅ کې اقتصادي فعاليتونه او تفکر له مذهبي او اخلاقي عواملو جلا تر څېړنې لاندې ونيول شول او ماديانو سره علاقمندي او د شتمنيو راټولول د اقتصادي فعاليت بنسټ جوړ کړ. اقتصادي تفکر پرته له دې چې اخلاقو، عدالت او د انفرادي وجدان آرامي په پام کې ولري، په يوه سياسي ايډيال پورې وتړل شو. د تخنيک پرمختګ، له بهر څخه د سرو او سپينو زرو راتلل، د کالوين دا نظر چې «د شتمنۍ ترلاسه کول د الهي موهبت نښه ده» او همداسې هم د اروپايي لويو او خپلواکو هيوادونو د دولتونو رامنځته کيدو دا زمينه برابره کړه چې نوي نظريات راڅرګند شي او دولتونه له مذهبي دستورونو پرته جوړ او د مسيحيت د حکومت له تشکيلولو ډډه وشي او د مرکانتليست تفکر ښه پوخ شي. د سوداګرې د نظرياتو او تيوريسنانو موخه په هرې وسيلې سره د سرو او سپينو زرو ټولول و، پرته له دې چې اخلاقي ارزښتونه وخت او عدالت په نظر کې ونيسي. دوی اقتصادي پروسه د دولت د ځواک، د دولت د اړتيا او اقتصادي قدرت ته د



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

رسېدو په موخه وکاروله او په اقتصادي فعالیتونو کې یې د دولت مداخله تر ټولو لوړ حد پورې ورسوله، دوی بهرنۍ سوداګري (د ګرانبیه فلزاتو ترلاسه کول) او د بهرنی سوداګري کلک کنترول تر تحلیل او عمل لاندې ونیول. له دوو پېړیو زیات د مرکانتیلستانو د سیاست اجرا کولو (چې د هغه له مخې د تجارت له طریقه د شتمنې ډېرول او د ګاونډیو ملتونو او مستعمراتو له استثمار او ښکېلاک او ځبېښناک څخه خالص محصول ترلاسه کول یې موخه وه) دوی ته ستونزې هم پیدا کړې او د دوی د اجرأتو لپاره یې ډېر مشکلات پیدا کړل. دا د دې لامل شو چې سره او سپین زر د اقتصادي سرچینو په توګه څېل ځای له لاسه ورکړي او ځای ځمکه او کرنیز محصولات ونیسي، ورو ورو صنعت او ماشین آلاتو او فابریکو د هغو ځای ونیو. په دې توګه له طبیعي سرچینو څخه ګټې اخیستنې او بشري ځواک باندې پانګونې لازیاته شتمنې رامنځته کړه، د مرکانتیلستانو له نظر سره سم د شتمنې زیاتېدل د لازیاتو سرو او سپینو په زېرمه کېدو ترلاسه کېږي. لکه هغسې چې د یوې ټولنې وګړي د سرو او سپینو په راټولولو شتمن کېږي، همداسې هم دولت د سرو او سپینو په راټولولو او ترلاسه کولو بډای او شتمن  او په نهایت کې ښه پیاوړی  کېږي. کله چې د اروپا د پرمختللو هېوادو په اقتصادي سیستم کې پیسې دود شوې، ورسره یې د مدیترانې په سمندرګي واک وموند او د چاپ ماشین اختراع شو، امریکا کشف شوه او د افریقا له لارې یې هندوستان هم وپېژاند. دې ټولو دوی ته د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا لاره هواره کړه او د شتمنې او ثروت سره یې مینه نوره هم زیاته کړه. د کروندو او صنعت خاوندانو فابریکې جوړې کړې او د انتلانتیک سمندر د سوداګریزو فعالیتونو اصلي ډګر وګرځېد. د نویو ځمکو نیولو او پېژندلو، د مکسیکو او پیرو د کانونو قیمتي فلزاتو په پیل کې هسپانیا او پرتګال او ورپسې هالنډ او انګلستان او فرانسه دې ته وهڅول چې دغه هیوادونه لاندې کړي. له بلې خوا د سیاست، کلتور او افکارو له پلوه په اروپا کې ډېر ژور بدلون راغی او واحد یو موټی ملي او متمرکز دولتونه، د پخوانیو فیوډالي دولتونو پرځای رامنځته شول.سوداګرانو (مرکانتیلستانو) د پخوانیو افکارو برخلاف، خلک د اقتصاد ښه کولو، مادي ترقي او فعالیت ته هڅول او دولت یې د قدرت تمرکز، شتمن کېدو او سیما کولو ته هڅول. دوی باور کاو چې د قدرت د ټینګښت او د حاکمیت د کلکېدو لپاره شتمنې ضرور ده، نو ځکه یې خپل نظریات په دوو دلایلو ټینګ کړل:

۱) د شتمنیو د نورو ډولونو په پرتله د قیمتي فلزاتو ښه والی.

۲) د هیواد د وسله او آذوقې ډاډمن کول.

د همدغو دوو دلایلو د عملي کولو پایله دا شوه چې یو شمیر مقررات او قوانین وضع شي او دغه قوانین د اروپا ګڼ شمیر هیوادو کې په ډېر لږ توپیر عملي شي. یعنې مرکانتیلزم د پانګوالی د اقتصاد د ټینګښت لپاره د تېری، یرغل، برید، دښمنې، سیالي او ښکېلاک په رامنځته کولو کې ډېر رول ادا کړ. سره له دې چې مرکانتیلستي نظریات په نړۍ کې د نړېوالو مبادلاتو د زیاتوالي د اهمیت او د نړېوالې سوداګرۍ د ترقۍ دوران کې راپیدا شول، خو د پانګوالي – صنعتي اقتصادي نظام په بشپړتیا کې بې اغېزې نه و، د سوداګرو، په نظر، تجارت د شتمنې سرچینه او پیسې د شتمنې وسیله ده. لاسي صنعت د تجارتي مالونو د تولید وسیله او د سوداګرۍ پیاوړی کوونکی ده. د سوداګري د پیاوړتیا لپاره باید د لېږد وسایل ښه سمبال شي. خوراکي توکي باید ارزانه وي، مزدونه باید ټیټ وساتل شي، د خامو توکیو صادرول منع او واردول یې وهڅول شي. د خامو توکیو د چمتو کولو سرچینې او د هغو د خرڅلاو مارکېټونه

باید په بهر کې ولټول شي او د لارو امنیت ډاډمن شي. په دې ډول سره په عمومي توګه د سوداګرو (مرکانتیلستانو) د نظریاتو اصول په لاندې ډول وو:

- سره او سپین زر یې د اقتصاد او شتمنیو سرچینې بللې، د سوداګرۍ د بیلانس پالیسي یې غوښتله،
- ګمرکي پالیسي یې سمبالوله او هغه یې د ثروت د ترلاسه کولو لپاره غوره بلله،
- د پیسو تحلیل او د کار په نیرو یې حساب کاو او د مرکانتیلستانو حقیقي سیاست مرکزي پیاوړې حکومت او د داخلي او خارجي سیاست له مخې د سوداګرۍ سمبالول و.

سره له دې چې د مرکانتیلزم نظریات؛ پوره دوه پېړۍ د اروپا په پیاوړو دولتونو کې حاکم و او د دوی اقتصادي او سوداګریزې چارې یې اغېزمنې کړې وې، خو بیا هم یو شمیر اقتصاد پوهان دغو نظریاتو ته د (مکتب) نوم نه ورکوي، دا ځکه چې ډېره همغږي پکښې نه وه، نو ځکه یې صرف (پولي ډُکترین) بولي چې عامه او ملي ګټو او د فردي ګټو په پرتله د دولت اقتصادي قدرت ته یې ډېر ارزښت ورکاو، د سرو او سپینو زرو د زیاتولو پالیسي د اروپا په بیلابیلو هیوادو کې په بیلابیلو بڼو په لاندې توګه پرمخ بوتلل شوه:

۱) اسپانیایي مرکانتیلزم: دا یوه پولي سوداګري ده چې له هغې سره سم له هېواد څخه د سرو او سپینو زرو وتل منع شول او د آسپانیایي اجناسو صادروونکی اړ وو، چې د خپلو صادراتي اجناسو په وړاندې سره او سپین زر وارد کړي او واردوونکی په دې باندې هم اړ وو چې دولت ته محصول ورکړي.

۲) بریتانیایي مرکانتیلزم: دا یو سوداګریز مرکانتیلزم و، چې بنسټ یې د بېړۍ چلولو په پیاوړي کولو سره د تجارت بنه کول، د سوداګرۍ له لارې او بهر ته د صادراتو له طریقه د سرو او سپینو زرو زیاتول و.

۳) فرانسوي مرکانتلیزم: یو صنعتي مرکانتلیزم و چې د صنعت د تشویق او د فابریکو د منظم کار کولو له طریقه یې بهر کې د تولیداتو خرڅلاو ته پاملرنه وه او په دې توګه یې د سرو او سپینو زرو زیاتولو ته کار وکړ.

مرکانتلیزم بهرنۍ سوداګرۍ وهڅوله، هیوادونه یې دخپلو خاموتوکو ارزښت ته ځیر کړل، د داخلي تولیداتو او دهیواد دننه د خامو موادو پروسس یې تشویق کړ، د دولت قوت یې په مالي قوت کې معرفي کړ، دتعرفو دوضع کولو نوی حالت یې وښود او داسې نور مثبت اصلاحات یې رامنځته کړل. ***مرکانتلیزم د اروپا هیوادو ته ډیر ګټور ثابت شو، خو دا چې سیاسی حریص واکمن یې د نورو هیوادو پرشتمنیو، جغرافیا او زمکو ور وبلوسیدل، دا یې بشری ضد ځیره وه،***

په دې وروستیو کې زموږ په سیمه؛ یعنی د آسیا جنوب او مرکزی آسیا کې د اقتصاد بڼه کیدو ته ډیره پاملرنه شوی ده، په دې لړ کې چین، پاکستان او تر یوې اندازې پورې هند لومړني اوچت ګامونه پورته کړل. چین د تجارت په موخه خپله ترټولو لویه پانګونه د پاکستان ګوادر بندر کی وکړه. ډیر ژر به اسلامی پاکستان او کمونیست چین ترخپل منځ د ( CPEC) کوریدور فعال کړي، آیا دا به د مرکانتلیزم له بهیر سره څه ورته والی ولری؟

له بلې خوا نوی عصر او زمان د روښانتیا عصر دی، نور نو ښکیلاک او استعمار خپل دوران تیر کړی دی، د هیوادونو ترمنځ د مساوی اوعادلانه حقوقو او ګټو په رعایت سره منطقوی اقصادی سازمانونه جوړ شوی دی، چې د هر غړی ملی ګټې پکې خوندي دي، لکه ایکو، شانګهای، سارک او نور. خو دا باید هیره نه کړو چې په همدې

نوی  وضعیت کی هم که چیرې پوخ ملی شعور او دشرایطو ښه تحلیل موجود نه وي، دملی ګټو خوندیتوب ډاډمن نه دی.

په داسي حال کی چي اقتصادی ثقل د ایرو-ایشیا لوري ته را روان دی، انتلانتیزم سره به سیال او آن ممکن ترهغه به مخکي شی، نو زموږ رول څه دی؟

ډیره ضروری  ده چي افغانستان د یوه  داسي هیواد په توګه چي کافی د اوبو منابع، جیوپولیتیک ستراتیژیک اهمیت او ترزمکي لاندی قیمتی ثروتونه(سرچیني) لري، باید د مرکانتلیزم تاریخ څخه ځان خبر او نوی واقعیتونه  په پام کي ونیسی. د اروپا مرکانتلیزم (د انګریز ښکیلاک) موږ ته داسي ټکان راکړی چي تراوسه په خپل حال نه یاستوراغلی، چي داخل موپښه ونه ښوییږی. دا به تیروتنه وي چي څوک په سادګی سره  فکر وکړي چي اوس  اوولسمه او اتلسمه پیړی نه ده، بلکي (منافع) هر وخت (منافع) دی ! هوښیار ملکونه نظریات لولي او دهغو په مطالعي سره دخپلو ثروتونو او قوت د زیاتولو لارې پیدا کوی،  آن که دا نظریات د زړو کالو پخوا هم وي. که داسي نه وای اوس به دارسطو، اپلاتون، سمیت، کینز، ماکیاول... نومونه هیر وای. اوس د توري- ټوپک، لښکر او پراخه جغرافیا دوران تیر دی، اوس هرڅه اقتصاد ټاکي. چي اقتصاد ښه و؛ په دیپلوماسی، کلتور، پوهه، روغتیا، بهرنیواړیکو، ملی ګټو ... لنډه داچي په هرڅه کي به مخکي يې، خو که بیوزله وې، ټول میدانونه درڅخه تللي دي.

بویه چي  دافغانستان ځوان کول خپله لار په هوښیاری غوره کړي. په سیمه کي  لویي پانګوني پیل شوي دي، دغه پانګوني یواځي سوداګریزی نه دی، بلکي د مرکانتلیزم په شان ژور سیاسی، کلتوري، نظامي، فني او ټولنیز  تاثیرات هم لري، نو څکه  اوس موږ د یوه داسي سوال سره مخامخ یاستو ، کوم چي پورته مو مخي ته اېښی . وایی مار چیچلی له پړي ویریږی،  خو موږ د تاریخي لوستونو  په مطالعي سره ویریږو نه، بلکي هوښیاریږو. اګر که  دا  درس د زړو کلونو مخکي هم وي !

پیاوړی او په خپلو پښو ولاړ خپلواک افغانستان هوښیارو  ځوانانو ته اړ دی.

تذکر:
هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!